۲۰۱۰/۱۰/۲۸

ا. دریځ

# سیاسي ګوندونه او دا ترخې تاریخي شېبې

لنده سریزه

نه کاله وړاندې دسپینې مانۍ په کلکه غوښتنه اومخامخ لاربښوونه ناتوځواکونه له تېروریزم سره دجګړې په پلمه په وچ جګړه بیز ټیکنالوژیک زور پر افغانستان ورننوتل. ددغوسمبالو پوځوپه پرتله دافغانستان خلک یو بې وزله، جګړې ځپلی، بې اسرې او دتنظیمي او طالبي واکمنیو له لاسه تپي شوی اواسکېرلی ولس وو. دزبرځواکونو په لاس کې دنومیالیو رسنیو له پرلپسې ډنډورو داسې ښکارېده چې اوس به دمنځنیو پېړیو ددغه زاړه هېواد بڼه داسې نوې شي لکه تردویمې نړیوالې جګړې وروسته چې دمارشال پلان له مخې دلویدیزې اروپا بڼه نوې شوه .

په پیل کې ډېر لږ سیاستوال پو هېدل چې دهاغه مهال اروپا اوننني افغانستان ترمنځ زښت ډېر توپیر دی .
هاغه مهال،سپینه مانۍ وېرېده چې لویدیزه اروپا دشوروي خواته مخه ونکړي . دامهال بل داسې ځواک نشته چې دهغه خواته دافغانستان دورنېژدې کېدلو وېره رامنځته شي.
سپینه مانۍ پو هېده چې اروپا به یې په راتلونکې کې دتولیداتو لوی بازار اوسیاسي ،اقتصادي او پوځي ملګرې شي. له افغانستانه داسې هیله نلري .
او، سپینې مانۍله اروپا سره اتنیکي ، کلتوري اودیني عاطفي اړیکي درلودل.له افغانستان سره یې نشته .
له دې سره هم ، دنړیوال ذهنیت دملتیا لپاره د دیموکراسۍ ، بشري رښتو،انتخاباتو، اساسي قانون ، لویو جرګو، ډالري مرستواوداسې نورودومره کوکې اورېدل کېږي چې غوږونه یې راکاڼه کړل ، خومثبت اغېز یې چا ونه لید .
له دغه تش پروپاګندي بهیر سره دا اېنجیوګانو، امنیتي او سوداګریزو کمپنیو، راډیوګانو، ټېلوزیونو، ورځپاڼو، مجلو، ووبپاڼو، سیاسي ګوندواوداسې نورودومره هېښنده بهیر رامات شوچې دافغانستان په تاریخ کې یې سارۍ نه درلود.
هغه کړۍ چې په هېواد کې دننه دناټوترسیوري لاندې پیسې ګټي اوپر دولتي واک کې یې ډېره لګولې؛ دغه بهیر دواکمن سیستم برياګنې اوهرځای یې په ویاړ یادونه کوي .
بله ډله چې اپوزېسیون اوسیاسي کره کتونکې دي،دپورتنیوښکارندوتومنې اواغېز ته په کتنه دهغوی ستره برخه دروان سیاست دیماګوژیک توکي ګڼي .
ددغودواړ ډلودځرګندونوسپیناوی له هغومیلیونوافغان پرګنوسره دی چې داهرڅه یې په نامه جوړېږي اودوی ته دکاروخدمت کوکې وهي.
په دغه لړ کې دامهال سیاسي ګوندونه ترهرڅه دژورې پاملرنې وړدي دي چې دټولنې دپرمختللي سیاسي شعوراستازیتوب کوي اولړترلږه دسمبولیکې ډیموکراسۍ په چوکاټ کې دځان ښکاره کولو لارورته هواره شوې ده .

## سیاسي ګوندونه

یوه ډله حقوقي شخصیتونه چې دسیاسي واک دګټلواویا دواکمن نظام داغېزمنولوله لارې دخپلوغوښتنودپلي کولو لپاره په خپله خوښه سره راټولېږي اوګډې سازماني هلېځلې کوي؛ سیاسي ګوند دی .
دسیاسي ګوندونودمنځته راتګ لپاره اقتصادي ـ صنعتي اوفکري ـ کلتوري ودې ته اړتیاده چې دهغې په رڼاکې دوګړیودګټوترمنځ کرښې وکښل شي اودهغوی دژغورنې اوساتنې لپاره پرواکمن نظام داغېز شعورپیاوړی شي .
دافغانستان توکیزه ـ مانیزه وده لاتراوسه په هغه پړاو کې ده چې دیوه سیاسي ګوندله تعریف اوځانګړتیاسره سمه یې دجوړښت زمینه خوراستونځې لري اوډېره ګرانه ده چې دټولنې تل ته جرړې وروغځولای شي.
ددې ځرګندونې مانا دانه ده چې لومړی دې دپورتنۍ ودې انتظار وویستل شي اوبیادې ګوندونه جوړشي . که داسې وي ،کېدای شي چې دغه موده زښته ډېره وغځېږي او څو کوله ( نسله ) لا نورهم په اوسنۍ تیاره کې تېره کړي . له همدغه لامله ،داوسنیو بېخرته ډېرو اوبې اغېز ګوندوپرځای د یوه یا څوسرسپارلیو اوورسره غښتلیو ګوندونومنځته راتګ ته اړتیاده چې دنړیوالوازمېیښتوپه رڼاکې دټولنې دبنسټیزو غوښتنو لپاره مبارزه وکړي اوپرمختللیو مدني شرایطوته یې ورسوي .
دننني افغانستان ځیني ګوندونه دتېرې پېړۍ دشپېتمو کلونو درنا تر اغېز لاندې منځته راغلي او یوه ډله یې له هاغوګوندو څخه رابېلې شوې څانګې دي چې په همدغه لسیزه کې جوړشوي ول .
دامهال چې په هېواد کې سراسري وزګارتیا واکمنه ده ،ځینې څېرې په اندېښنه کې دي چې له کومولارو سیاست ته ورګډې شي چې څه پیسې وګټي .دوی اورېدلي چې د سیاسي ګوندو په مټ دغې هیلې ته رسېدای شي اودهغوی په درلودو به دمالي ګټې یوځای ونیولای شي .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په همدغه لړ کې مې اورېدلي چې په اوسني بې سروبوله بهير کې د داکټر نجيب الله دواکمنۍ ديوه قومي کنډک نالوستي او له سياسته بشپړ ناخبره قوماندان چې پخوا له اسلامي ګوند سره وو؛ دخپل پخواني کنډک له وسلوالواوخپلوکليوالوسياسي ګوند جوړکړی اوپه عدليه وزارت کې يې ثبت کړی دی. داسې نورې بېلګې هم ډېرې موندل کېدای شي او څرګندوي چې ځينوته سياسي ګوند څومره بابېزه مانا لري .
داسې بهير په رښتيا چې ديموکراسي نه ، ګډوډي ده اوتر هرڅه مخکې يې زموږ يوشمېر لاروړکي هېوادوال له ملنډو اوسپکاوي سره مخامخوي .
ځينوسياسي ګوندو چې دغه سپک شوی بهير وليد ، پرېکړه يې کړې چې چوپتيا به غوره کوي اوپه دغه شرمېدلي بهير کې به تر هغې ځان نه ورګډوي چې دسياسي ګوندو ارزښت پېژندل شوي نه وي .
په دغه لړکې يو هم د « ودان افغانستان ګوند»  دی چې پرلپسې خپلې سياسي اوفکري هڅې پرمخ بيايي اوهله غواړي په سياسي ډګر کې راڅرګندشي چې دټولنې ستره برخه يې د غوښتنوملاتړ وکړي .
ترداسې ګوندواخواچې ديوشمېر غږيو پردرلودلو بسيادي او په روان سياسي بهير کې يې ځانونه څرګند کړي؛که  پر همدې شنلې بڼه پاتې شي اوديووالي په مرسته ځواک ونه مومي،له دې زيږې لارې به يوه پچه وانه ړولای شي . ان هغوی چې ځانونه ډېرسپېڅلي اوسرسپارلي هم ورته ښکاري ، بې ځواکه به څه ونکړای شي .

## تګلارې

هرګوند په واکمن نظام کې داسې سياسي ، اقتصادي، ټولنيزې، حقوقي ياکلتوري نيمګړتياوې وينې چې له نوي الترناتيف اوټاکلي سياسي فشار پرته يې دلرې کولو بله لارنه مومي . په دغه سياسي الترناتيف کې دګوند غوښتنې ،ايډيولوژيک ارمانونه او فلسفي نړۍ ليدښکاره کېږي اوهمدايې دسياسي مبارزې « تګلار » ياستراتيژي ګڼل کېږي .
دافغانستان داوسنيو يوسلوڅودېرشو پټواو ښکاره ګوندو« که ګوندونه يې وبللای شو» په تګلاروکې لاندېني فلسفي اقتصادي اوسياسي ليدلوري څرګندېږي :
له فلسفي پلوه:
١ـ راديکال ديني  ٢ـ دوديز ديني  ٣ـ لاييست ياسيکولار ۴ـ اتاييست
له اقتصادي پلوه:
١ـ دخصوصي بازاري اقتصاد پلويان ٢ـ دګډاقتصادپلويان ٣ـ ددولتي اقتصادپلويان
له سياسي پلوه:
١ـ دديموکراتيک پلوراليزم غوښتونکي ٢ـ داسلامي خلافت يوګوندي سيستم غوښتونکي ٣ـ دکمونيستي يوګوندي سيستم غوښتونکي .

هغه ګوندونه چې ددين پربنسټ دولت جوړول غواړي اويالږترلږه په حقوقي نظام کې پراسلامي شريعت ټينګارکوي ؛ دسياسي هڅو دپرمخ بېولو پوره ازادي لري  او ترنوروډېرپلويان موندلای شي . ځکه چې ددوی تيزسونه دټولنې له باور سره سم دي او له ټکر سره نه مخامخېږي .
تردوی اخوا، لاييک و سيکولارګوندونه اړدي چې  دډېر سياسي هنر په کارولوهم خپلې غوښتنې څرګندې کړي  اوهم په ټولنه کې خپل ځای وساتي . دوی داسلام پرمنلواو درناوي ټينګار او ترڅنګ يې دسياسي موخودلاسته راوړلو په لار کې ددين کارولو مخالفت کوي .
وروستۍ ډله هغه ګوندونه دي چې په ټوليز ډول ،هررنګه دينباوري دټولنې دوروسته پاتېوالي يوبنسټيز لامل ګڼي اوهڅه کوي چې داتاييستي ـ ماترياليستي افکارو دپراختياپه مرسته دټولنې بدلون ته لارهواره کړي .
دوي دخپلو هڅو په ترڅ کې له سختو ستونځو،ټکرو اوقانوني بنديځوسره مخامخ دي . همدالامل دی چې يا ځانونه بشپړ پټ ساتي او يا لاييستي او سيکولار فورمونه په تاکتيکي ډول کاروي.
په اوسني سياسي بهيرکې ځينې داسې ګوندونه هم شته چې بنسټ ايښوونکيويې واک ته دورګډېدلولپاره په خورابېړه جوړکړي . دوی داجرتي ميرزايانو په مرسته دهاغه او دغه ګوندله بېلابېلو تګلارو ټکي  ورټول کړي اويوه تګلاريې ترې جوړه کړې ده. ددغه راز ګوندو سروال دغوره کړيوتګلارو په مانا نپوهېږي اوهمدومره يې زده کړي چې هرځای کېڼې پرلپسې به ديموکراسي،اسلام،بشري حقوق،ازادبازار،اداري فساد،جنګسالاران اوپه روان سياست کې څوداسې نورموډ شوي ټکي يادوي؛سياستوال به ګڼل کېږي اويوه څوکۍ به نيسي.
په رېښتياچې دارازسياست ،داراز ګوندونه او دهغوی دارازتګلارې اوان نومونه هم ژړوونکي دي اوهم خندوونکي .
نپوهېږم داڅه ډول وجدانونه دي چې غواړي دخلکوسترګوته خاورې وروشيندي اودخپلوناوليوځاني غوښتنولپاره تربوسولاندې اوبه تېرې کړي . په نړيوال سياست کې داډول چار،چلن ته ديماګوژي (دخلکوغولول ) وايي.

## دګوندوډېرښت



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دپورتني فلسفي، اقتصادي اوسياسي وېش له مخې لړترلړه داپوښتنه رامنځته کېږي چې دهغه په چوکاټ کې دافغانستان دومره ډېرهمرنګه او ورته ګوندونه دشتوالي اوپايښت څه منطق لري؟
کېدای شي دغې پوښتنې ته دځينو ګوندو دبنسټ ايښوونکوځواب داوي چې دوی په هاغو کلوکې داګوندونه جوړکړي چې پرګوندي هڅوبنديځ وو او دوی خپل اوسني ورته همفکران نه پېژندل.
تردې اخوا، ددومره ډېروهمرنګه اوهمفکره ګوندو دشتوالي يوازېنی منطق له سياسي ـ دولتي واک سره دهغوی دسروالوله بېکچه مينې ، ځانغوښتنې ، ځانښودنې ،ذوقي ،سليقوي اواستيتيکي توپيرونو،اروايي غوټو، شخصي کرکې ، تاکتيکي ـ تخنيکي بېلتانه اوپه ډېره ټيټه کچه تر فکري ـ ايډيولوژيکي دوښمنۍ پرته بل څه کېدای نشي .
اوسمهال په هېواد کې دننه اوبهرتر ۱۳۰ ډېرې کړی ، ډلې ، ګروپونه،سازمانونه، اوسياسي جوړښتونه ليدل کېږي چې ډېر يې ځانونه «ګوندونه » ګڼي . ددغو جوړښتونو ستره برخه غړي يوشمېردولتي کارمن ،پخواني اواوسني وسله وال ،بېواکه شوي چارواکي او ددوی نېژدې خپلوان وپلويان دي . دوی ګردسره داځوکاله هڅې کوي چې له بېلابېلوشتو وړتياوو ګټه واخلي اودخپلوغړيوشمېر ډېرکړي . کتنې ښيي چې دوی يوهم پخپل کارکې بريالي نه دي اودټولنې منځته يې لار موندلې نه ده .

دګوندوبېکچه ډېرښت په ټولنه کې له سياسي هڅوسره مينه راټيټوي اوپه ټوليز ډول پرګوندوباندې سراسري باورته سخت تاوان وراړوي . دلته ددې پرځای چې ګوندونه ديموکراتيک بهير پياوړی کړي، هغه کمزوری کوي اوله ماتې سره يې مخامخوي.
څه موده وړاندې عدليې وزارت يوه پرېکړه وکړه چې له مخې يې يوازې هغه سياسي جوړښت «سياسي ګوند » ګڼل کېدای شي چې لږترلږه لس زره غړي ولري . دغه تخنيکي ګام به تردې اخوا د«ګوند» دنامه پرستيژ له لا سپکېدو اوبې باوره کېدو يوڅه وژغوري اوکېدای شي چې په ترڅ کې يې دهماغومره ګوتشمېرڅوګوندوله منځته راتګ سره مرسته وکړي چې دټولنې سياسي اتموسفير اړتيا ورته لري .

يوه سراسري بلنه

په ديموکراتيک جوړښت کې دفکري مخالفو پياوړيوګوندو شتوالی هم ديموکراسي پياوړې ساتي اوهم دټولنې له چټکې ودې سره ډېره مرسته کوي .
کوشنۍ سياسي ډلګۍ دټولنې باور ګټلای نشي . دوی پخپلوتنګوکړيوکې کمزورې پاتېږي ؛خپلوارمانوته رسېدلای نشي ،انارشۍ اوګډوډۍ ته لارپرانيزي اوديموکراسۍ ته ترهر بل چا سترګواښ ورپېښولای شي .
دافغانستان ګوندونه په همدغسې يوه بحراني پړاو کې لالهانده دي .
له دغې لالهاندۍ دوتلو لپاره ټول ګوندونه اوسياسي سازمانونه يوه نوي پلاتفورم ته اړتيالري .دغه پلاتفورم دفلسفي،اقتصادي اوسياسي ليدلوريو له مخې ټاکل کېږي اوهمرنګه اوهمفکره ګوندونه له خپلو هغو ذوقي ، سليقوي اواستيتيکوسرسري توپيرو تېرېږي چې دوی يې يوتربله جلاکړي اوديووالي اوځواکمنۍ مخه يې ورنيولې ده .
ددغه پروسيجرلپاره دهمرنګوګوندو دټولوغړيو په ګډون دګوندي يووالي کانفرانس جوړلو ته اړتياده .
که داکار يوازې دګوندومشرانو ته ورپرېښوول شي ،کېدای شي چې مثبته پايله ونلري . ځکه چې ځينې دمشرۍ غوښتنې پرناروغۍ اخته دي اونه غواړي چې خپل ځای اونوم بل چاته ورپرېږدي .
په دوی کې دځينوګوندو ناځوانه اوپرېوتي سروال پرخپلو ساده اوسپينزړيوملګريو پټه سوداګري کوي اوله ځان سره يې ټول دپيسولپاره پربهرنيوکړيو ورپلورلي . بهرنۍ پټې کړۍ هم دڅوپيسو پروړاندې له دوی نه دجاسوسۍ،ورانکارۍ ، ګډوډۍاوداسې سلونورو رذالتونو کاراخلي .داځکه چې دغه کرغېړنې بې شخصيته څېرې نه شرم پېژني ، نه حيا.نه تاريخ پېژني نه جغرافيا. نه دملي ګټوپه مانا پوهېږي اونه دخپل ولس په شأن وشرف . دوی هغه څوک دي چې دپېنځو روپيو لپاره د پرديواستخباراتو سپيتوب کوي ؛ خپل ولس ته داړې جينګوي اوچې لاس يې برشي، خپلوهېوادوالوته خولې وراچوي .دوی دپټومالي سرچينودساتلولپاره له ټولولارو،چاروګټه اخلي چې دګوندو په مشرۍ کې پاتې شي او دهرهغه يووالي مخنيوی کوي چې ددوی مشري له ګواښ سره پکې مخامخېږي .
دداسې ناوړه څېروترمشرۍ لاندې ګوندو غړي بايد له ساده ګۍ اوناګارۍ ځانونه وژغوري اوپرې نهږدي چې څوک يې پر سرونوسوداګري وکړي . ترهرڅه لومړی دې دوی دخپلو مشرانو مالي شتمنيو ته وګوري، هغه دې له خپلوشتمنيو سره پرتله کړي اودا پوښتنه دې رااوچته کړي چې هغو په داتېرو څوکلو کې دادومره بې خرته پيسې ، کورونه ،ځمکې ،شرکتونه،تجارتونه ، ګاډي اوداسې نورله کومه کړل ؟ که هغوددې پوښتنې ځواب نه ورکوي ، دوی خودې لږترلږه دومره مېړانه وکړي چې مخ ترې وګرځوي اوپرې يې نږدي چې کمزوري شي اوپوښتنې ته کېني .
دهرګوندغړی دنده لري چې پرلپسې دخپلومشرانوشتمني وارزوي . هغوی چې په سياسي ژوندانه کې ناڅاپي دډېرې شتمنۍ خاوندېږي ؛ دپوښتنې وړ دي . ځکه چې داراز شتمنۍ له اسمانه نه رالوېږي .هرومرو يې څوک ورکوي اوځانګړې دندې پرې ترسره کوي .


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دګوندوغړي دهغووبنسټيز څواک دی . دوی دې نه پرېږدي چې څوتنه يې له ارمانوسره لوبې وکړي او بېځايه يې له هغه چاسره پردوښمنۍ واړوي چې کټمټ ددوی غونډې ارمانونه اوسياسي غوښتنې لري .

دګوندي يووالي په کانفرانسو کې بايد دقضاوت و پرېکړې وروستی واک دګوندو له غړيوسره وي . که دوی وينې چې مشران يې له يووالي دسرغړونې هڅې کوي ؛ دهغوی غوښتنو ته دې ارزښت نه ورکوي .دوی دې خپل ټول څواک ددې لپاره وکاروي چې په نوروګوندوکې له خپلوهمفکرو ملګريو سره يوځای شي اوپه ګډه دخپلوارمانواوهيلويو څواکمن ګوندولري. که دوی وينې چې داکار له مشرانوسره په « مخه ښه » ويلو کېږي خپلوهيلواوارمانوته ددرناوي لپاره دې مخه ښه ورسره وکړي .

دګوندوغړي خوڅه دهغو دسروالو مريان نه دي چې په پوزو اوغوږوکې يې زنځيرونه وراچولي . دوی ولې خپل ارمانونه ترپښولاندې کړي او په پټوسترګو دهغوی سپارښتنې ومني؟

يو ازاد انسان خپله اراده لري اودهغې په رڼا کې پخپله خوښه پرېکړه کوي .

کتنې ښيي چې دهمرنګه ګوندو دغړيوترمنځ ديووالي تلوسه ډېره ده خوځينې لاربنودې کړۍ يې په ډول، ډول پلمومخه نيسي.که دا سمه وي ، دګوندو دويمه او دريېمه پوړۍ دې نوښت په خپل لاس کې ونيسي او دخپلوهمفکروګوندو له غړيو سره دې ديووالي دغونډې پرجوړولووغږېږي .

دهمداسې غونډوپه ترڅ کې ګرد پخواني تشکيلات ړنګېږي؛ له ټولو تګلارو يوه ګډه تګلارليکل کېږي اودهرې نوې تشکيلاتي اوتاکتيکي پرېکړې په اړه ديووالي دغونډې دګډونوالو پټه يا ښکاره خوښه پوښتل کېږي .

له دې سره به له ټولواوسنيو يوسلوڅودېرشوتش په نامه سياسي ډلو،ټپلو پېنځه ياشپږ داسې پياوړي ، غښتلي اوځواکمن ګوندونه رامنځته شي چې هم دېرديو له مزدورۍ خپلواک وي،هم يې خبرې او غونډې په ټولنه کې ټاکلی وزن و پرستيژ ومومي، هم يې دهېواد په سياسي جوړښتوکې ځای اودريځ وځلېږي اوهم يې غړسيمه ييز ونړيوال غبرګون ومومي .

ددې ترڅنګ ، له دې هم سترګې نه پټووچې دسياسي ګوندو يوشمېر مشران خوراسپېڅلي اوخپلو فکري ارمانوته ژمن انسانان دي . دوی دخپلوهمفکرو پروړاندې هرراز کامپرومايس ته چمتودي اوله هغوی سره ديووالي ژوره تنده اوتلوسه لري . څکه دوی ته ترخپل ځان ددوی سياسي ارمان ډېرارزښتمن دی اودهغه دپوره کېدلو لپاره هررازقربانۍ ته چمتودي .که دوی په خپلوفکري کړيوکې نوښت ته مخه کړي ، کېدای شي چې په هېوادکې دهمفکره ګوندو ديووالي لړۍ ژر پيل اوپه چټکۍ اوبرياليتوب بشپړه شي .

په هېواد کې دهمفکره ګوندو ديووالي سراسري بلنه ځانګړيو ګوندوته نه ده. داکار دټول هېواد په ګټه دی اودټولوګوندو پر پياوړتيا مثبت اغېز کوي .

پرېږده ان هغه ګوندهم له دغه بهيره بې برخې پاتې نشي چې موږ هېڅ ډول سياسي اوفکري سېمپاتي اوداورګانيک يووالي هيله اوتلوسه ورسره نلرو. داځکه چې په ټوله کې داګوند هم پرافغانستان اړه لري اودافغانستان يوشمېر وګړي يې غړي دي .

## ملي فېدراسيون

دهمفکره ګوندو ديووالي دبهير له بشپړېدلوسره به لږ شمېر خو پياوړي ګوندونه ولرو. ددوی په مشرتابه کې به په خبره پوه ، پاکلمني او منطقي شخصيتونه وي چې هم به دمخالفت بريدونه پېژني او هم به مخالفت زغمي . له داسې شخصيتوسره په غږېدلو کې ستونځه نه راولاړېږي . دوی هم هېوادنۍ ــ ملي ګټې اوښېګڼې پېژني اوهم خپلې فکري ، سياسي اوګوندي هغه .

په دغسې يوه مدني ــ سياسي چاپېريال کې به ترټولو لومړۍ اوستره پوښتنه داوي چې سياسي ګوندونه به په داسې يوه وروسته پاتې ويجاړ هېواد کې چې:

بهرني اوکورني جګړه مار هره ورځ لا اور وراچوي؛

امنيت پکې نشته ؛

دولتي سيستم يې ګډوډ دی؛

اقتصاد نلري؛

له هرلوري ورانکاري لاسونه ورغځېدلي؛

اولا دوېشلواوله منځه وړلو پټې اوښکاره پلمې ورته جوړېږي ،

څنګه خپلې غوښتنې پلې کړای شي ؟

له همدااوسه ښکاره ده چې دې پوښتنې ته به هېڅ سياسي لوری ځواب ونلري .

ددغه ځواب نشتوالی به ټول ګوندونه دې ته اړ کړي چې دافغانستان تر ژغورلواو په هغه کې دسراسري ثبات ترمنځته راتګ پورې خپلې فکري اوسياسي کرښې اودهغوی پربنسټ اختلافات يوې خوا پرېږدي او اوږه پر اوږه دخپل کوردړنګېدلواوسوزېدلواو دخپلو هېوادوالو د وژل کېدلو مخه ونيسي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

ددغې پرېکړې دپلې کولو لپاره « دګوندوملي فېدراسيون» جوړېدای شي. دغه فېدراسيون به دګردوهېوادوالو هراړخيز ملاتړ ولري او دهغه په رڼاکې به دملي ښېګڼواوګټو لپاره داسې ځواکمن غږ پورته کړي چې په هېوادونړۍ کې انګازه اواغېزخپاره کړي . تراوسه پورې داسې يوازېنی پیاوړی غږ نشته او دا ورځني کمزوري غږونه نه څوک اوري اونه څه اغېز لري .
که سياسي ګوندونو په دغه ترخه تاريخي پړاو کې خپله دغه ملي دنده وپېژنده اوهغه يې پخپله سياسي پوهه بشپړه کړه؛ هم به دخپلو ارمانو دپوره کولو لپاره لار پرانيزي اوهم به دخپل ولس و هېواد پر وړاندې سترتاريخي کارسرته ورسوي.
دا يوازې يوه هيله ، ايډيال اوخوږه فانتازي نه ده. داهغه څه دي چې دافغانستان ګټوته ژمن سياسي ګوندونه يې دپورتنۍ بلنې او ميکانيزم په رڼا کې عملي کولای شي .خو پوهه ،مينه او زړورتيا دربواړه غواړي .

ځوک څه پوهېږي ؟ ګوره که دادربواړه يوځای سر راپورته کړي اوداسې ورځ راورسېږي چې ټول دوروسته پاتې ،ځوربېدلي اونړېدلي هېواد پرځای د« ودان افغانستان » خاوندان شو!
يوازې لويې هيلې اوهغوی ته کاردی چې ځواک وژوندرابښي . ترمرګه به دلويو هيلولمن نه پرېږدو!
زموږ دلويو هيلو رڼا هرومرو راتلونکي ده.

پای

نشر: پاينده څرګند
sargand@afghan-german.de


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ